
**بسم الله الرحمن الرحيم**

**له پاڅونونو مخکې او وروسته د خلافت تاسیس یوه فریضه ده**



که څه هم الله سبحانه و تعالی پر موږ د خلافت تاسیس فرض کړی دی. هغه خلافت چې په نړۍ کې د ټولو مسلمانانو مشري کوي،چې اسلامي احکام پلي کړي او نړۍ ته اسلامي دعوت ورسوي. که څه هم شریعت موږ ته د خلافت د نشت وخت یوازې او یوازې درې ورځې ټاکلی دی، خو زموږ چارې نږدې له ۱۰۰ کلونو را په دې خوا د سیکولریزم تر چتر لاندې د انسان په لاس د جوړو شوو نظامونو په اډانه کې د فرانسوي او انګریزي قوانیونو او انساني عقل پر مټ سمبالېږي. په داسې حال کې چې د الله سبحانه و تعالی قوانین په عملي ژوند کې نه پلي کېږي.

**اې مسلمانانو!** د خلافت تاسیس د نړۍ په هر ګوټ کې پر ټولو مسلمانانو فرض دی. د هغه تاسیس یوه فریضه ده هیڅ بدیل نه لري او پر سر یې هیڅ جوړجاړی هم نه شي کېدای. لکه څرنګه چې لمونځ، زکات او نور ارکان فرض دي، همدارنګه په دې تړاو لاس تر زنې کښېناستل ستره ګناه ده او د الله سبحانه و تعالی د سخت عذاب سبب ګرځي. د خلافت تاسیس فریضه د شام په پاڅون او د نورو اسلامي خاورو په پاڅونونو پورې تړاو نه لري، بلکې دا د پاڅونونو له پېښېدو مخکې او وروسته یوه فریضه ده چې باید ترسره شي. دا ستره فریضه ده او د فرایضو تاج ګڼل کېږي.

د خلافت تاسیس په قران، سنت او د صحابه وو په اجماع سره ثابت دی. الله سبحانه و تعالی په خپل کتاب کې رسول صلی الله علیه و سلم ته فرمایي:

﴿فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ﴾

[المائده: ۴۸]

*ژباړه: ته ددوی تر منځ په هغه څه فیصله وکړه، چې الله سبحانه وتعالی درته لېږلي او د هغه حق په پرېښودلو سره چې تاته راغلی دی د دوی د غوښتنو پیروي مه کوه.*

په یو بل ایت کې الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ﴾

[المائده: ۴۹]

*ژباړه: او ته د دوی په منځ کې په هغه څه سره چې الله درته نازل کړي دي فیصله کوه، ته د دوی د غوښتنو پیروي مه کوه او ته له دوی نه محتاط اوسه هسې نه چې دوی تا له ځینو (حکمونو) څخه واړوي، چې الله درته نازل کړي دي.*

امام مسلم له نافي څخه روایت کوي، وایې عمر رضی الله عنه ما ته وویل چې د الله له رسول څخه مي واورېدل:
**«مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ، لَقِيَ اللَّهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا حُجَّةَ لَهُ، وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً»**

چا چې د امیر له اطاعت څخه لاس واخیست، له الله سبحانه و تعالی سره به په داسې حال کې لیدنه وکړي چې د ځان لپاره به هیڅ دلیل نه لري او هر هغه څوک چې د امیر له بیعت پرته مړ شي، مرګ به یې د جاهلیت وي.

رسول الله صلی علیه و سلم پر هر مسلمان ټینګار کوي، چې له امیر سره بیعت وکړي او هغه صلی الله علیه و سلم د هغه چا مرګ چې د امیر له بیعت پرته مړ شي، د جاهلیت مرګ ګڼلی دی. د خلافت شتون پر هر مسلمان باندې بیعت واجبوي او بیعت یوازې له خلیفه سره کېږي. امام مسلم له العرج او هغه له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ، يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ، وَيُتَّقَى بِهِ»**

په رښتیا سره امام ډال دی، تر شا یې جګړه کېږي او ځان پرې ساتل کېږي.

د اصحابو کرامو اجماع چې الله سبحانه و تعالی د ترې راضي شي د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر مړینې وروسته د خلافت تاسیس یوه جدي اړتیا وګڼله. یو په بل پسې یې د ابوبکر، عمر او د هغه ځای ناستي عثمان رضي الله عنهم سره بیعتونه وکړل. د الله د رسول د جنازې له ځنډولو څخه د صحابه کرامو اجماع له ورایه ښکاري، چې دوی د خلیفه پر ټاکلو بوخت وو. له همدې څخه معلومېږي چې دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک جسد دوې شپې په بستر کې پرېښود؛ ځکه هغه یې ستره فریضه ګڼله.

ټول اصحاب په ژوند کې د خلافت پر تاسیس موافق وو، که څه هم کله ناکله یې د خلیفه په ټاکنه کې اختلاف درلود. خو د خلافت په تاسیس کې یې هیڅکله هم اختلاف نه دی کړی، نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر وفات وروسته او نه هم د نورو خلیفه ګانو تر وفات وروسته. کله چې عمر رضي الله عنه د چاقو په مټ سخت ټپي شو، نو ده شپږ تنه لوی صحابه عثمان، علي، طلحه، زبېر، عبدالرحمن بن عوف او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنهم ونومول او سپارښتنه یې وکړه که دوی د دریو ورځو په ترڅ کې د خلیفه پر ټاکلو هوکړه ونه کړه، نو نیوکه کوونکی کس به وژل کېږي. له همدې امله ده رضي الله عنه ۵۰ مسلمانانو ته چې مشري یې ابو طلحه الانصاري کوله لارښوونه وکړه، چې نیوکه کوونکی کس به وژني.

**اې د شام مسلمانانو!** د خلافت تر ړنګېدو وروسته موږ مسلمانان په ناوړه حالت کې د کفري ښکېلاګرو تر مستقیم نیواک لاندې ژوند کوو، د دوی د لاسپوڅو ظلم او وحشت د خپلو بادارانو په پرتله پر مسلمانانو باندې لا ډېر زیات دی او همدا رنګه د حزبونو مشران هم د خپلو مخکنیو پر پلو قدم ږدي. حقیقت دا دی که موږ خلافت لرلی، نو کرغېړن پانګوال نظام به د مسلمانانو او بشریت ژوند له یوې پیړۍ راهیسې دومره نه وای ګواښلی.

**اې د شام مسلمانانو!** د شام انقلاب به هغه وخت بریالی او د شام وحشي واکمن او متنفر رژیم به هغه وخت نسکور شي، چې موږ الله سبحانه و تعالی ته را وګرځو. له هغه سبحانه و تعالی څخه بری وغواړو او یوازې له هغه څخه د ملاتړ او مرستې غوښتنه کړو، د هغه د امرونو پیروي او له نواهیو یې ډډه وکړو. له هغې وروسته چې ټولې نړۍ پر موږ برید وکړ، نو موږ وایو هغه څوک چې الله لري، د هغه پر وړاندې څوک درېدلی شي؟ او هغه څوک چې الله نه لري د هغه ملاتړ به څوک کوي؟ موږ د حزب التحریر ځوانان امت ته ربښتینې سلا او مشورې ورکوو، موږ ربښتیا وایو او له الله سبحانه و تعالی څخه یوازې وېره لرو. له همدې امله موږ هر مهال له مبارزو، ګڼو سوالونو، تورونو او شکونو سره مخ یو، ان د سیکولرو رژیمونو له بریدونو سره. د ادلیب تر لاریونونو وروسته چې په راتلونکې کې به هم دوام ولري، دغو لاریونونو زموږ ځواک او د الله سبحانه و تعالی مهرباني په ډاګه کړه. زموږ اخلاص او د الله سبحانه و تعالی ژمنه زموږ د ځواکمنتیا او بري نښه ده. اې د شام خلکو! سره یوځای شئ او په

خپلو منځونو کې دا پرېکړه وکړئ چې دنبوت پر طریقه به خلافت تاسیسوئ او ژمنه وکړئ چې یوازې د خپل رب عبادت به کوی، له ده پرته به د بل چا عبادت نه کوئ، د هغه سبحانه و تعالی قانون به پلی کوئ او له هغه سبحانه و تعالی پرته به له هیچا وېره نه لرئ. الله سبحانه و تعالی د واکمنۍ سرچینه ده، هغه سبحانه و تعالی هغه چا ته واکمني ورکوي چې خوښه یې وي او له هغه چا څخه یې اخلي چې خوښه یې وي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ﴾

[الاعراف: ۱۲۹]

*ژباړه: نښایي ستاسو رب ستاسو دښمن هلاك کړي او تاسو به په ځمکه کې خلیفه ګان (ځای ناستي) جوړ کړي، بیا به هغه ګوري چې تاسو څنګه عمل کوی؟*

**حزب التحریر- ولایه سوریه**

**۱۴۳۹هـق، رمضان ۲۴ مه**

**۲۰۱۸ م، جون ۹ مه**

**ژباړن: صدیق احمدزی**